# د یوناما خبری کنفرانس


**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org


**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**ښاغلی علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست**

*کابل- د می د میاشتی نولسمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما :** ښاغلیو او اغلیو سهار مو نیکمرغه، زما نوم علیم صدیق دي د یوناما د ویاندوي د دفتر څخه یم. زموږ کنفرانس ته ښه راغلاست. مخکی له هرڅه یو څو لنډ رپوټونو تاسو ته وړاندی کوو او وروسته به بیا ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایو.

## ملګري ملتونه د ګرمسیر په ولسوالی کی ۱۵۰۰ بې ځایه شوي کورنیو سره مرسته کوي

په رسنیو کې د ګرمسیر د ولسوالی په اړه په کافی اندازه رپوټونه راغلي دي. اوس مهال په سهیلی زون کې د ملګرو ملتونو موسسی د هلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالی د جګړه ځپلو خلکو ۱۵۰۰ بی ځایه شوو کورنیو ته مرستي چمتو کوي. له دغه ۱۵۰۰ کورنیو څخه ۹۰۰ کورنی د لشکرګاه په ښار کې او نور ۶۰۰ کورنی د ګرمسیر په بیلابیلو کلیو کې ځاي پر ځاي شویدي. دغه کورنی به ضروری خواړه او سرپناه چې له مخکی د لشکرګاه په ښار ځاي پر ځاي شوی وي، ترلاسه کړي. دغه مرستی د نړیوال خوراکی پروګرام او د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنری دفترونو له خوا برابر شویدی.

## په حلقوي سړک باندې د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکي پروګرام لاری له منځه ولاړله

د می په ۱۷ نېټه د ۷۹ سوداګریزې لاري چې د نړیوال خوراکي پروګرام په خواړو بار وې د کندهار څخه د هرات او نیمروز د ولایتونو په لور رواني شوې. دغه کتار چې د ملي پولیسو له خوا بدرګه کیدلو د دولتی ضد عناصرو له خوا تر برید لاندې راغله چې هغوي کوچنی وسلي او د اوږې دسر راکټونه یې په دې برید کې وکارول، دغه حمله د کندهار ولایت د میوند په ولسوالی کې په عمومي حلقوي سړک باندې وشوه. دغه لارئ چې د خواړو د نړیوال پروګرام په خوراکي موادو بار وه د اوږې د سر د راکټ په وسیله تر برید لاندې راغله او وسوځیدله چې دې کې ۸۴ ټنه غنم وو چې د ۱۰۵۰۰ کسانو لپاره په پام کې نیول شوي وو، د دې پیښې په صورت کې ځاني تلفات نه وو رامنځ ته شوي.

پخوا تر دې د مې د میاشتې په ۸ نېټه یوه سوداګری لارئ چې په کې ۴۸ ټنه د نړیوال خوراکي پروګرام خوراکي توکي (غنم) د ۶۰۰۰ ګټه اخیستونکو لپاره بار وو د کندهار او هرات د لارو تر منځ دغه مواد ورک شول.

نړیوال خوراکي پروګرام د خبر سره سم د تجارتي لاریو کتارونو په خلاف چې په ۲۰۰۷ کال کې یې د خواړو د نړیوال پروګرام خوراکي توکي لیږدول تر بریدونو لاندې راغلل. مجموعا ۸۷۰ ټنه خوراکي توکي چې ارزښت یې ۷۳۰،۰۰۰ ډالرو ته رسیدو ورک شول. د دغو پیښو څخه د څلورو په خواوشا پیښو کې د کتارونو چلوونکي او یا هم بدرګه کوونکی پولیس یا وژل شوي او یا هم ټپیان شوي دي.

ملګري ملتونه د دې لپاره کار کوي چې ډیرو زیان منونکو وګړو ته په افغانستان کې په اصولي توګه په بیطرفانه توګه خواړه ورسوي. موږ ددغو بې با کانه غلاګانو او د دغه تخریب په کلکه غندنه کوو او په سملاسی توګه ددغو بریدونو پای غواړو چې د افغاني ټولني د ډیرو بې وزلو وګړو څخه خواړه اخلي او په دې توګه د افغاني وګړو د اسلامي او عنعنوي ارزښتونو پر خلاف عمل کوي.

## د جوزجان په ولايت کې د ملګرو ملتونو نړيوال خوراکي پروګرام د کار په بدل کې د خوراک، ښوونځيو د جوړولو، کانالونو د پاکولو پروژې پيل کړې

د ملګرو ملتونو نړيواله پروګرام د جوزجان ولايت د آقچې په ولسوالی کې د کار په بدل کې د خوړو پروژه پيل کړې. ددې پروژې له لارې به په کولته شاخ، جنګل اريغ، جنګل اريغ مهاجر، کوتان قار او د ينداٰ اريغ په کليو کې ۵ لومړني ښوونځي جوړ کړي. د آقچې د ولسوالی د شاخوا د کليو نږدې ۴۱ کليو متره کانالونو د پاکولو کار به هم پيل شي. د ملګرو ملتونو نړيوال خوراکي پروګرام د دې پروژې لپاره نږدې ۲۲۲ ټنه خوراکي توکي ځای پر ځای کړې دي.

په يوه بله بېله هڅه کې، د ملګرو ملتونو نړيوال خوراکي پروګرام د دايکندي د ۸ ولسواليو د ښځو، معيوبينو او د کورنيو د سپين سرو مشرانو لپاره نږدې ۳۶۰ ټنه خوراکي توکي ځای پر ځای کړې دي.

## يونيسف په هرات کې روغتيايي کارکوونکو ته روزني برابروي

څه رنګه چې تاسو پوهيږي په دې وروستيو کلونو کې افغانستان د منيدو او ماشومانو د مړيني په راتيټولو کې ستر ګامونه اخيستي دي. هر کال نږدې ۸۰،۰۰۰ ماشومان د روغتيايي پاملرنې د ښه والی له امله ژغورل کيږي خو موږ په دې لاره کې لا هم بايد زيات اوچت ګامونه پورته کړو. د دې لپاره چې د مړيني ميزان لا هم راتيټ کړای شي، د يونيسف دفتر د عامه روغتيا د رياست په همکارۍ د هرات په ښار کې د ۱۶ ډاکترانو او قابله ګانو لپاره د زيږوني د پاملرنې د بيړنيو اساسي زده کړو يو درې ورځنی کورس پرانيستي دي. هغه کار پوهان چې له دغه کورس څخه فارغ کيږي کولای شي د کليوالو او لرې پرتو سيمو په کلينيکونو کې عادي زيږدنې ترسره کړي او د زيږوني له خطر څخه ډکې نښانې وپيژني.

د ۲۰۰۴ کال راهيسي د سويلي سيمو د څلورو ولايتونو نږدې ۱۵۸ ډاکترانو او قابله ګانو دا ډول روزنې تر لاسه کړې دي.

همدارنګه په هرات کې د کوسان په ولسوالی کې د يونيسف يو تمويل شوی ښوونځی تيره اوونۍ پرانيستل شو. اټکل کيږي چې ۱۵۰۰ زده کوونکي به (چې ۶۱۵ يې نجونې دي) په راتلونکي کې له دغه ښوونځی څخه ګټه پورته کړي.

## د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې موسسه په زرګونو افغانانو ته د څارويو خوراکي توکي ويشي

په دې راتلونکو اوونيو کې به د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې موسسه د باميانو او دايکندی په ولايتونو کې ۲۷۲ ټنه د څارويو ټينګ شوی خوراکي توکي و ويشي.

ټول ۲۷۳۰ تنه کروندګر به د باميانو په ورس، يکاولنګ او پنجاب ولسواليو کې او د دايکندی په سنګ تخت، کيتی او شيخ مينان ولسواليو کې له دغو توکيو څخه ګټه واخلي.

هر يو ګټه اخيستونکی ته به ۱۰۰ کيلو ګرامه د څارويو ټينګ خواړه ور کړل شي چې دا اندازه به تر ۵۰ ورځو پورې د څلورو پسونو، او يا وزو او يا يوې غوا او يوه خسکی لپاره بس وي.

دا د هغو ۶۰ ټنه ټينګ شوو خوړو څخه اضافه دی، چې لا د مخه د خوړو او کرنې د موسسي له خوا د باميانو ولايت د کرنې رياست ته په ۲۰۰۰ کروندګرو باندې د ويشلو لپاره ورکړل شوي و.

## د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د افغانستان د طبیعي پیښو ضد ملي اداري سره د ولایتونو د پیښو ضد پلانو په جوړولو کې مرسته کوي

د هیواد په کچه پروژې د یوې برخې په توګه د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په هرات ولایت کې د می له ۷ تر ۱۷ پورې د پیښو ضد مدیریت کارپوهانو روزنیز ورکشاپ مرسته وکړه.

یو این دي پی او د اروپایي کمیسیون د بشر پالنې د مرستو دفتر (ECHO) د افغانستان د پیښو ضد ملي اداري سره د ولایتونو د پیښو ضد پلانونو په جوړولو کې مرسته کوي چې کولای شي تر ناوړه طبیعي پیښو څخه مخکې، د هغو په بهیر او له هغو څخه وروسته د ځایي ټولنو ژوندون بچ کړي.

په لومړی پړاو کې دغه پروژه په کندز، مزار شریف، هرات، کابل، دایکندي، ننګرهار، پکتیا او کندهار ولایتونو کې پلي کیږي. په کندز کې د لومړی روزنیز ورکشاپ را وروسته د هرات په ولایت کې د دغه ورکشاپ دوهمه پیښه وه. د هرات د ولایت څه نا څه ۵۰ تنو د پیښو د مدیریت کارکوونکو په دغه ورکشاپ کې برخه واخیسته. د بیړنی چمتوالی او غبرګون د ولایتي کمیسیون یوې لس کسیزه ډلې (ښځې او نارینه) ته روزنه ورکړې شوه، چې عامه وګړو ته د مخا مخ روزنې او عامه با خبرتیا لوړولو د روزنې له لارې د ټولنې د رادیوګانو، تلویزیونونو او لیکلیو رسنیو په کارولو سره د پیښو د مدیریت تخنیکونه وروښیي.

### پوښتنې او ځوابونه

**بی بی سی:** زه دوه پوښتنې لرم. آیا تاسو د نړیوال خوراکي پروګرام پر کتارونو برید کوونکي طالبان، وسله والې ډلې او یاهم بل څوک بولئ؟ د هلمند د ګرمسیر په ولسوالی کې د داخلي بیځایه شویو کسانو په اړه څه نوي معلومات لرئ او دا چې د دغو داخلي بیځایه شویو کسانو حالت څه ډول دی؟

**یوناما:** د نړیوال خوراکي پروګرام پر کتار باندې د حملو په اړه، زه متاسفانه زیات تفصیل نه لرم چې د دغو بریدونو تر شا د چا لاس دی، نو زه څه نه شم زیاتولای. د ګرمسیر ولسوالی په اړه د ملګرو ملتونو موسسې د محلي چارواکو سره هلته له نږدې څخه کار کوي چې څومره کساتو د جنګ له امله کورونه پرې ایښي دي. هغه څه چې موږ تاسو ته ویلای شو چې تجربه ښایي چې کله دغه ډول پیښې رامنځته کیږي زیاتره وخت کورنی خپل کورونه موقتي د دوو دریو ورځو لپاره پریږدي او بیرته ژر خپلو کورونو ته ستنیږي. نو ځکه اکثره وخت د رسنیو لومړني رپوټونه ډیر زیات وي خو د څو ورځو په جریان کې هغه کورنی چې مرستو ته اړتیا لري د شمیرې ل مخې ډیرې راکمیږي ځکه چې دغه وګړي ډیر لیواله دي چې ژر کورونو ته راستانه شي. زموږ ارزونې څرګندوي چې ۱۵۰۰ کورنی مرستو ته اړې دي چې نه دې توانیدلي خپلو کورونو ته راستنې شي، همدغه کورنی کورته د بیرته ستنیدو تروخته سر پناه او خواړو ته اړتیا لري. د ملګرو ملتونو مرستو ځای پر ځای کولو په کار کې چټکتیا راولي. د سر پناه لپاهر ضروري مواد لکه ترپال، ضروري خواړه، د پخلي مواد او هغه مواد چې د ډیرو زیان منونکو خلکو لپاره برابره شوي دي په دې کې شامل دي.

که چیرته بیرته د نړیوال خوراکي پروګرام پر کتار باندې د بریدونو مسالې ته ولاړ شو نو دلته ویلای شم چې دلته دا ډیره د پام وړ نه ده چې د بریدونو تر شا څوک وو، دا چې د دغو بریدونو پایلې څه وې د پام وړ ده. کله چې ملګري ملتونه هلې ځلې کوي چې دغو وګړو ته ورسیږي څوک چې زموږ مرستو ته اړتیا لري، هر

ځومره چې دغه وګړي د مرستو څخه بې برخې کيږي په همغه اندازه زيان منونکي وګړي په افغاني ټولنه کې زموږ د مرستو لپاره ډيريږي. موږ غواړو چې هغوي ته يو قوي پيغام نن واستوو چې دغه بريدونه بايد پای ته ورسول شي. دغه بريدونه موږ ته دا ستونزمنه کوي چې هغو وګړو ته وسيږو چې مرستو تـه اړ دي او د دغو ناوړه د اعمالو په نتيجه کې به وګړي زيات رنځ وګالي.

**آريانا تلويزيون:** د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د شورا د ځانګړی رپوټ ورکوونکی د رپوټ په هکله کلک غبرګون ښکاره کړي او ستري محکمې هم ځيني خبريـالان د سپيناوی لپاره غوښتي دي. په دې هکله ستاسو نظر څه دی؟

**يوناما:** تاسو د تيري اوونۍ مطبوعاتي ناسته په ياد لری چې مـا او پروفيسور آلستن دواړو دا خبره وکړه چې نوموړی د ملګرو ملتونو کارکوونکی نه بلکه يو خپلواک کار پوه دی. نوموړی د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا له خوا نومل شوی او په جينوا کې نوموړی سازمان ته رپوټ ورکوي. هغه بيان چې د نوموړی له خوا صادر شوی د نوموړی لومړۍ لاسته راوړني تشريح کوي، او د روان کال په پای کې به خپور شي. لـه کوم شکه پرته به د ټولو طرفونو سره په دې اړوند خبرې ترسره شي. يوناما تل دا موضوع روښانه کړې چې د شخړې ټول اړخونه بايد دواړو، افغان او نړيوالو قوانينو ته چيرې چې د ملکي کسانو د سوکالی او خونديتوب مسله مطرح کيږي درناوي وکړي. موږ د هغو هڅو ياونه کو چې پوځي ځواکونو د ملکي کسانو د تلفاتو د کمولو په موخه ترسره کړې او په نتيجه کې يې د تيرو څو مياشتو په ترڅ کې د ملکي کسانو تلفات ډير کم کړي دي. که څه هم چې د هيچا د رضايت په هکله هيڅ کوم شي نه ليدل کيږي، موږ بايد داړ حاصل کړو او پوه شو چې هر يو افغان خوندی دی.

د دې موخې د لاس ته راوړلو لپاره بايد موږ د يو بل سره ګډ کار وکړو، بايد د افغانستان د حکومت او پوځي ځواکونو سره يو ځای کار وکړو او زموږ فکر هم همدې ټکی ته متوجه دی. ستاسو د پوښتنې د دومې برخې په هکله بايد ووايم چې زموږ حقوقي مشوره وړانديز کوي چې دا د ډله ييزه رسنيو د کميسيون دنده ده چې په ډله ييزو رسنيو هر ډول تحريم ولګوي يا د ډله ييزه رسنيو د هر ډول احتمالي سرغړونو تحقيقات لـه دې څخه مخکې چې دا ډول دوسيې لوی څارنوال او يا هم ستري محکمې ته راجع شي، تحقيقات وکړي. موږ به يوازې هغه وخت يوه غښتلي او اغيزناکه مقرره وينو چې يو وار د قانون د حاکميت څخه پيروری وشي او موږ دا خبره د حکومت په وړاندې مطرح کوو.

**سهار په خير افغانستان:** د ګرم سير د ولسوالی د متاثره شويو خلکو او هغو برابرو شويو مرستو پـه هکلـه، او هم څه ډول مرستې برابرې شوي يا کومې مرستې پلان شوي دي؟

**يوناما:** موږ هيله لرو چې دا مرستې ژر تر ژره پيل کړو، موږ د ځـايي چاروکو سره خبرې کو چې د دغو کورنيو اصلي موقعيتونه څرګند کړي. خوراکي توکي ځای پر ځای شوي او د ويشلو لپاره تيار دي. هيلـه کوو چې دا لړۍ به يوه يا څو ورځو کې پيل شي. د مرستو د ريښتيني بڼې په هکلـه د کډوالولپاره د ملګرو ملتونـو د عالي کميشنری او د نړيوال خوراکي پروګرام د همکارانو څخه چې همدا اوس دلته موجود دي پوښتنې وکړي،

هغوي به تاسو ته د مرستو د شکل په هکله معلومات درکړي. زما په فکر خوراکي توکي، د پخلنځي او سر پناه سامان آلات لکه پلاستکي ترپالونه په دې کې شامل وي.

**پریس تلویزیون:** په افغانستان کې د خوراکي توکو نرخونه مخ پر لوړیدو دي او اوس د نرخونو د لوړوالی له امله خلک نه شي کولای د پخوا په شان خپل ژوند ته دوام ورکړي. د هیواد د عامه روغتیا د وزارت د معلوماتو له مخې یو شمیر خلک د خوراکي توکو د نشتوالی له امله د نیمګړې تغذیې سره مخامخ دي، زه غواړم پوه شم آیا ستاسو اداره ددې بحران په موخه کوم پروګرام په نظر کې لري؟

**یوناما:** زه ډاډه یم تاسو په دې پوهیږي چې د خواړو حالت نه یوازې هیواد متاثره کړې بلکه ټوله نړی اوس د دې بحران سره مخامخ ده. د افغانستان حکومت د نړی په کچه د لومړنیو هیوادونو له جملې څخه شمیرل کیږي چې په دې هکله یې ګامونه اوچت کړې. تیر کال د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ په دې مسله پراخې خبرې اترې وشوې، څنګه د دې حالت سره معامله وکړي. زه غواړم د ملګرو ملتونو او د افغانستان د حکومت هغې ګډې غوښتنې ته چې د تیرې جنوری په میاشت کې په خاص ډول د دې موضوع د هواره ولو لپاره چې د ۷۷ میلیونو امریکایې ډالرو د مرستې غوښتنه کړې، اشاره وکړم. تاسو پوهیږي چې دا تمویل تر لاسه شوي او د ځو میاشتو راهیسې د مرستو د ویشلو لړۍ روانه ده. د دې غوښتنې لاندې د مرستو لړۍ به د سږ کال د جولای تر میاشتې پورې دوام وکړي او میلیونه افغانان به د دې مرستو د ویشلو څخه ګټه پورته کړي. په عین حال کې د افغانستان د حکومت سره د خبرو لړۍ روانه ده چې که کله دا لړۍ پای ته ورسیږي نو بیا څه کول په کار دي.

موږ باید دوه یا دری کلیدي عملونه ووینو: موږ باید پوه شو چې د دې هیواد لنډ مهاله اړتیاوې کومې دي. دمګری په دې خبرې اترې رواني دي چې د ګاونډیو هیوادونو څخه غنم را ونیسو، په دې هم فکر کوو چې د کومو نورو ځایونو څخه هم غنم تر لاسه کړو. په منځ مهاله دوره کې موږ باید په دې فکر وکړو چې د هیواد د کرنې د سکټور ظرفیت څنګ لوړ کړو تر څو هیواد وکولای شي د خوراک په ډګر کې په ځان متکي شي. د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې سازمان د افغانستان د حکومت سره د مرستې په موخه د کرنې د سکټور په بیا رغولو کې یو مخکښه رول لوبوي تر څو وکولای شو په منځ مهال دوره کې د غذایي نه خوندیتوب د حالت څخه ځان خلاص کړو. په اوږد مهاله دورو کې، افغانستان باید د ستراتیژیکو غلو دانو د ذخیره کولو په چارو فکر وکړی چې له دې ستونزو څخه ځان وژغوري.

**سبا تلویزیون:** په نږدې راتلونکي وختکي د کابل امنیتي مسوولیت به افغاني امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي، په دې اړه د یوناما نظر څه دی؟

**یوناما:** موږ د افغانستان د حکومت دغه څرګندونو ته ښه راغلاست وایو چې د کابل د امنیت د مسوولیت اخیستلو لپاره چمتو کیږي. دا د افغانستان د مشرتابه له خوا یو قوي سیګنال او اشاره ده چې د افغانستان حکومت یې جوتوي او موږ غواړو چې د افغانستان حکومت لا ډیر زیات د امنیت د مسوولیت اخیستلو لپاره په دې هیواد کې چمتو شي او دا یوه هڅوونکې نښه ده.

ډیره ډیره مننه